مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب سپین‌غر

۲۰۲۶/۱۱/۱۴

د افغانستان غمیزه

د الماني شاعر او خبریال تیودور فونتانی (*)

د نامتو شعر پښتو ژباړه

پرخه پرخه واوره وري له اسمانه
یو آس سپور په جلال کوټ کي دی نیم ځانه.

«څوک یي؟» — «سپور برېتانوی یمه راغلی
له [کابله] (**) مي پیغام را رسولی.»

د [کابل] نوم یي په سترې غږ ادا کړ
درست نیم ښار یي را خبر په تماشا کړ.

رابرت سېل (***) په بیړه غږ کړه ورته خلاصه
او سرتېری یي را کوز کړ له خپل آسه.

سپور یي ننه ایست د تیرو کوټنی ته
چې لږ تود شي هلته اینې بخاری ته.

چې راتود شو او په زړه یي حس رنا کړه
ساه یي و ایسته، مننه یي ادا کړه:

مورِ د دیارلس زره تنو لوی کاروان وو
له کابله ستاسو لور ته را روان وو

لوی واړه، ښځي عسکر او څو مشران وو
له هر لوري د بریدونو بندیوان وو.

ټول لښکر تالا ترغی شو په هر لوري
ژوندي پاتي [د الله هیلي] ته ګوري

پر ما فضل د سبحان و د ژغورون
ځئ د نورو پاتي شویو په لټون.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

رابرت سپل بې ځنډه وخوت پاس کلا ته
ټول لښکر يې برچپق ولاړ و شا ته.

ويل يې داسې درنه واوره چې وريږي
ژوندي پاتې خدايګو ژر راورسيږي.

که هر څو دې رانږدې، خو لار تړې ورکه
غږ مو نه ورځي، تر منځ مو واټن ځکه

د هيواد او د کاله تراني وايئ
سورنۍچيانو د خواله تراني وايئ.

کړۍ شپه يې په سندرو بدرګه کړه
بې له دمې بې له خوبه يې جوګه کړه

هم د مستو انګليسي سندرو غږ و
هم ويرنې هم له غره ختلی ځوږ و.

شپه او ورځ په سورني ستړي شول همزولي
لکه مينه چې څوک خپل کور ته رابولي

بله شپه هم بدرګه شوه په سندرو
خو هيڅ حال را معلوم نه شو د ملګرو.

د دوی غږ تر هغوی نه رسېده نور
ټول لښکر پوه پنا شوی په سره اور

د زرګونو جنګياليو له کاروانه
کور ته يو ستون شو له ګرد افغانستانه.

{*}هاينريښ تيودور فونتانی (۱۸۱۹ – ۱۸۹۸) الماني شاعر او ژورناليست و. فونتانی پرليکوالۍ او شاعرۍ سربېره ژورناليستيک فعاليت هم کاوه. نوموړي د افغان- انګليس د لومړۍ جګړې(۱۸۳۹ - ۱۸۴۲) پر مهال د پروس حکومت له پاره په لندن کې د خبريال په توګه دنده ترسره کوله. «د افغانستان غميزه» د همدې جګړې په ترڅ کې د بريتانوي پوځ د تاريخي ماتې، شاوخوا پينځلس زره بريتانويانو د له منځه تلو او په جلال اباد کې د بريتانيا پوځي ادې ته يوازې د يوه تن – ډاکټر ويليام براېډن د ژوندي رسېدو د پېښې په باب د شاعر او ژورناليست فونتاني له شخصي ولولو او احساساتو ډک شعر دی چې پر ۱۸۵۷ کال يې په لندن کې ليکلی و. که څه هم دا شعر د هغه ستر ناورين بشپړ او ربښتينې انځور نه وړاندې کوي، د يوه تاريخي سند په توګه د اهميت وړ دی.

{**} په اصل متن کې د قافيې او شعري اهنګ په موخه «افغانستان» ليکل شوی، خو ما د ژباړې د روانۍ او سليستوب په پار پر کابل وژباړه.

{***}جنرال رابرت هېنري سپل (۱۷۸۲- ۱۸۴۵) د افغان- انګليس د لومړۍ جګړې پر مهال په جلال اباد کې د بريتانوي پوځ قوماندان و.

ډويچې ويلې تلويزيون- برلين، ۲۰۰۵

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ